



ايمل « مرونډ »
د نشر نيټه : ۲۴ فبرورى ۲۰۱۳ ميلادى

# ختيځ ادبي بهير خپله ۳۱ مه غونډه ترسره کړه

د ختيځ ادبي بهير ملګرو خپله ۳۱ مه اونيزه ناسته د ۱۳۹۱ کال د سلواغي مياشتي په ۲۷ مه نيټه د جمعي په مبارکه ورځ د جلال اباد ښار د ميديوتيک په انګړ کي ترسره کړه.غونډه د تل په شان سهار ۹ بجې پيل شوه او تر غرمي ناوخته پورې يې دوام وکړ. پرانيسته يې قاري زيارمل سوکال د قران پاک د څو مبارکو اياتونو پر تلاوت وکړه، د دريځ چارې جمال ثاقب سمبالولې او راپور ايمل مرونډ ليکه .

دا پلا د غونډې مشري شفيق الله مصور کوله، مېلمه ورسره دوست محمد دوست و او د کوربه توب محمد فهيم رحيمزى کاوه.

د دود سره سم د تيرې ناستي ګزارش ايمل مرونډ ولوست، چې د ملګرو لخوا وستايل شو او د توکو د ارزوني په برخه کي د ژمني سره سم لياقت خان عزت مل خپله لنډه کيسه ارزوني ته وړاندې کړه .

عزت مل په خپله ليکنه کي د يو ځوان ګلاب او بريښنا د ميني کيسه کوي، چې دواړه سره په خپلو کي خپلوان دي او له ماشومتوبه يو له بل سره مينه کوي.
کله چې دوى دواړه لوييږي مينه يې هم ورسره لوييږي او لا زور پيدا کوي. د ګلاب او بريښنا د ميني په داستان باندې د دوى دواړو د کورنيو غړي هم خبر وي او د ګلاب کورنى هڅه کوي چې په نن او سبا کي د بريښنا په جرګه ورشي او ګلاب ته يې رشته وغواړي.
خو حالات نه غواړي چې دوى دواړه سره يو ځاى شي او بله ورځ په کلي کي يو کس ډزې کوي چې بريښنا يې ورته ورکړه، خو جرګه راټوليږي او جرګه هم بريښنا هغه چاته ورکوي چې ډزې يې پرې کړي دي، د دې سره بريښنا څو ورځې وروسته ځانوژنه کوي خو ګلاب بيا هم ژوندى وي او د بريښنا مرې ته ځي او هغه خاورو ته سپاري.

پر کيسه د خبرو پيل ايمل مرونډ وکړ، هغه وويل که څه هم د عزت مل صيب کيسه د موضوع له اړخه ښکلې وه، خو ولې لوستونکى يې له ځان سره نه شو ساتلى او تلوسه هم په کي نه وه يا ډيره کمزورې وه .

په خبره يې د ليکوال نه کيسه پرې شوې ده او لوستونکي ته ستړې کيدونکي ده ، داسې فکر کيږي چې کومه نثري ليکنه يا ولسي داستان وي .

د نوموړي په وینا د کیسي پای هم ډېر غوڅ دی او په داسي ځای کي خلاصیږي چي لوستونکیو ته دا چانس نه ورکوي چي د کیسي یا د کرکټر په اړه فکر وکړي او ځینې پوښتني ورسره پیدا شي (( په کیسه کي بریښنا ځانوژنه کوي او کله چي ګلاب خبریږي یوه کړیکه یې له خولې وځي او بیا د بریښنا مړي ته ځي او هغه دفن کوي، چي لوستونکي ته ټوله خبره ځرګندیږي .))

د مړوند په وینا که چیرته دا کیسه په همدي ځای خلاصه چي ګلاب د بریښنا له مرګه خبر شي او یوه کړیکه یې له خولې ووځي، نو ممکن لوستونکي د ګلاب په اړه فکر وکړي چي یاره په ګلاب څه شوي، خو دلته په کیسه کي ګلاب د بریښنا له مرګه وروسته هم ژوندی وي او د مراسمو ټوله کیسه وکړي .

ضیاالدین همت مل وویل تلوسه یې هغه وخت خلاصه شوه کله چي لیکوال د کیسي په پیل کي د ګلاب او بریښنا د رشتي په اړه معلومات ورکړل چي بریښنا د ګلاب د ترور لور وه. هغه همدارنګه د ګلاب د نامه د ډېر تکرار خبره هم وکړه .

مړوند وویل ګلاب چي کله کوچنی وي او د پېښور نه وطن ته راځي نو د سړک پر سر د ټولو په وړاندې د بریښنا لاسونه په لاسونو کي نیسي او ښکل کوي یې. له انده یې کله چي یو ځوک د اتو نهو کلونو په شاخوا کي عمر ولري هغه دومره نه پوهیږي چي د خپل جانان لاسونه ونیسي او هغه هم د ټولو خلکو پر وړاندې .

ځینو نورو ملګرو هم د مړوند سره د خبرې ملا تړله او د سړک پر سر باندې د ګلاب لخوا د بریښنا د لاسونو ښکل یې پر ځای نه بلل .

نادر دانش بیا په ټوله کي کیسه خوښه کړه، او وې ویل چي عزت مل صیب په خپله کیسه کي د ټولني ډېر یو بد دود یاني په پردیو لورګانو د ډزو دود او بیا د جرګي یوه غیر عادلانه پریکړه، چي جرګه هم بیا بریښنا هغه چاته ورکوي چي ډزې یې پرې کړې وي انځور کړی دی او ډېره مهمه مسله یې په کي رااخیستي ده، چي اوس هم په ځینو لرو پرتو سیمو کي داسي ستونزې شته دی .

دانش هم د لارې پر سر د بریښنا د لاسونو ښکلول او په خپلو لاسونو کي د هغي لاسونه نیول پر ځای ونه بلل .

نوموړي همدارنګه وویل ((د کیسي په یو ځای کي راغلي دي چي یو بد زیری یې راکړ، زیری موږ بد نشو ویلی ځکه چي زیری شو نو باید ښه وي ځکه زیری عموما ښو خبرونو ته کارول کیږي خو که ووایو چي یو بد خبر یې راکړ نو یو څه ترینه اخیستل کیږي .

مړوند بیا د جرګي لخوا شوې پریکړې باندې نیوکه کوله چي جرګه هغه چاته بریښنا ورکوي، چي ډزې یې پرې کړې دي، هغه ویل تراوسه پورې داسي نه دي شوي چي د یو چا پر لور دې ځوک ډزې وکړي او بیا دې هغه سړی خپله لور هماغه کس ته ورکړي .
خو ځینو ملګرو ورسره نه منله او ویل چي په ځینو سیمو کي جرګي دا ډول پریکړې کوي .
الفت پاڅون بیا ځینو کلیمو ته ګوته نیوله چي په کي پښتو نه وي لیکل شوې .

محمود خزان د (( اولاد نه درلودل)) پر ځای باندې (( اولادونه نه درلودل سم بلل)) او تېنګار يې کولو چې دا بايد جمعه راشي .
نهضت شېرزاد هم ځينو کليمو ته په اشارې ويل چې پر ځای نه دي کارېدلي هغه د بېلګې په توګه د برېښنا پلار ياد کړ چې ګلاب ورته کاکا وايي. د شېرزاد په وينا د ترور خاوند ته زموږ په ټولنه کې خلک کاکا نه بلکې ماما وايي چې بايد ورته دلته هم وويل شي .
همت مل بيا ويل چې د اشاري ضمايرو نه يې په يکي هيڅ ګټه نه وه اخيستې او تر پايه د ګلاب نوم تکرار شوی دی .
دوست محمد دوست بيا د ليکوال د لوستلو انداز خوښ کړ چې ډېره اوږده کيسه يې ډېره ښه ولوستله هغه وويل موږ بايد تل هڅه وکړو چې په خپلو ليکنو کې اخلاقي ارزښتونو ته ډېره پاملرنه وکړو. او د لارې پرسر يې د برېښنا لاسونه ښکلول د ګلاب لخوا يې د اخلاقي ارزښتونو سره په ټکرکې ياد کړل .

جمال ثاقب بيا د ګلاب او برېښنا ترمنځ چې په ماشوموالي کې کومې خبرې کيدې د دوی څخه ډېر لوېې او سترې يادې کړې هغه وويل د دوی ترمنځ چې د خبرو کومه تبادله شوې ده د دوی د عمرونو په پرتله ډېرې غټې او مشرې دي.

مړوند وويل ((زما په نظر دا لا کيسه نه ده، خو که ليکوال يې د کيسې په چوکاټ کې واچوي نو يوه ښه کيسه ترېنه جوړيدای شي .))

ثاقب وړاندې وويل په کيسه کې کله راوي خپله کيسه کوي او بيا په ځينو ځاينو کې د ګلاب او برېښنا ترمنځ مکالمې وړاندې کوي (( خپله راوي کيسه کوي خو په ناڅاپي ډول بيا وايي: ګلاب، برېښنا او د دوی ترمنځ مکالمې وړاندې کوي .))
په پای کې خپله د کيسې ليکوال دريځ ته پورته شو او د ټولو ملګرو نه يې مننه وکړه چې نيک او رغنده نظرونه يې ورته ورکړل زياته کړه چې په راتلونکي ليکنو کې به ضرور د دوی له نظرونو ګټه پورته کوي. هغه د کيسې د نوم په اړه د ملګرو نظرونه وپوښتل چې د ځينو ملګرو په خوښه يې ورته ((تنکی هیلی)) نوم غوره کړ .
تر کرکټنې وروسته يوه ازاده مشاعره وشوه چې د يادو کسانو سربېره يکي دغو ښاغلو هم خپل شعرونه وويل :
محمد فاروق ديدار، محمود خزان، الفت پاڅون، صفی الله سنګين، ضياالدين زلمي، اختيارالله، نجيب الله سمون، امين الله ملاخېل، هدايت الله شيدا، احمد جمال جمال، حضرت يوسف يوسفزي، صديق الله صديق، جانان زمري، شمس ارحمان حسيني مجيب الرحمان، فرهاد، الله محمد حسنزي، فريد الله ملاترې، ظاهر قلندر او بصير احمد تلاش .

په پای کې د دې اونيزې ناستې مشر مېلمه شفيق الله مصور دريځ ته وبلل شو. نوموړي خوښي څرګنده کړه چې د ختيځ ادبي بهير په اونيزه ناسته کې ګډون لري او غونډه يې ډېره ښه وارزوله ، وې ويل د ملګرو لخوا ډېره ښه کره کتنه وشوله چې ډېر څه يې يکي واوريدل .

غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسيده .

رپورټر: ايمل « مړوند »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org